رغونه

اونیزه

د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د جمادی الأولی ۰۳ مه، ۱٤٤۷ هـ.ق
د لړم/عقرب ۰۳مه، ۱۴۰۴ هـ.ش

لومړی کال، پرله پسې ۳۶مه ګڼه



دافغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست


په دې ګڼه کې لولئ:


کاپیسا — د محمودراقي ښاروالۍ لپاره د نوي ښاروال د معرفت غونډه ترسره شوه

غزني — غزني ښار د درییم او څلورم پلان پارکونو د رغونې چارې روانې دي

هلمند — نوي بازار او میلمستون سړک د قیرریزۍ پروژه په چټکۍ سره روانه ده

لغمان — مهترلام ښاروالۍ له لوري د یو کیلومتر په اوږدوالي د سړک هوارکارۍ چارې پیل شوې

فراه — فراه کې د باختر پله رغنیزې چارې ۳۵ سلنه بشپړې شوې

هلمند — نادعلي ولسوالۍ کې د یوه پل د جوړولو کار پیل شو

ننګرهار — د UNOPS، موسسې او د جلال اباد ښاروالۍ مسؤولینو ترمنځ ناسته ترسره شوه

بغلان — د مرکزي بغلان ښاروالۍ د غیرقانوني ودانیو د جوړېدو مخه ونیوله

هلمند — لښکرګاه ښار کې د درې اساسي پروژو چارې پیل شوې

بلخ — مزارشریف ښار کې د یوې کوڅې کانکریټ اچولو چارې د ۷ میلیونه افغانیو په ارزښت پیل شوې

فراه — فراه ښاروالۍ د ۵ کیلومتره خامه سړکونو جغل ریزۍ او هوارکارۍ چارې پیل کړې

بلخ — مزارشریف ښار کې د یو سړک کانکریټ کولو پروژه د ۷,۵ میلیونه افغانیو په ارزښت ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه


## غزني کې د ۱۰ میلیونه افغانیو په ارزښت د دریو پروژو چارې پیل شوې



غزني

## فراه ښاروالۍ په څلورمه ناحیه کې د ۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د (رادار یو ۱)سړک د اسفالټ (قیرریزۍ) چارې پیل کړې



فراه

## د کندز ښاروالۍ لخوا د پنځو پروژو چارې د بشپړېدو په حال کې دي



کندز

دافغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

# د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

رغونه
اونیزه

سمینار آموزشی آنلاین ٦ روزه که به هدف بلند بردن آگاهی و ارتقای ظرفیت کارمندان مراکز ولایات و ولسوالی‌ها در سطح ۳۰ ولایت با هماهنگی ریاست عمومی انسجام امور شاروالی‌های اداره امور به شکل آنلاین در تالار کنفرانس شاروالی شهر ایبک ولایت سمنگان برگزار گردیده بود پایان یافت.



سمنګان ۱

نخستین دور رقابت‌های تکواندو جام دوستی ولسوالی رستاق تخار با اشتراک ۴ تیم و ۵۰ ورزشکار در در این ولسوالی برگزار گردید که تیم تکواندو شاروالی تالقان با کسب اکثریت مدال‌های طلا قهرمان این مسابقات شد.



تخار ۲

مهترلام ښاروالۍ د ښاري حکومتولی امریت تر چطر لاندې د پاک چاپیریال ساتنې او د ښاري فرهنګ د پیاوړتیا په موخه په مهترلام ښار کې ګډ حشر ترسره شو. یاد حشر چې د مهترلام ښاروال په مشرۍ په لاره اچول شوی وو، د ښاري حکومتولی ترځنګ د ښاروالۍ امرینو، مدیرانو، ګذر وکیلانو، ورزشکارانو، د اصنافو ریاست مسؤولینو او ښاریانو ګډون کړی وو.



لغمان ۳

تیم فوتبال شاروالی چاریکار در نخستین بازی خود در لیگ داکتر شیرزاد به مصاف تیم فوتبال نعمان رح رفت و به نتیجه مساوی دست یافت. پیش از این، تیم فوتبال نونهالان شاروالی چاریکار در مسابقات لیگ نوجوانان موفق شد به مرحله نیمه‌نهایی راه یابد و کاپ بازی جوانمردانه را از آن خود کند.



پروان ۴

## د محمودراقي ښاروالۍ لپاره د نوي ښاروال د معرفت غونډه ترسره شوه



کاپیسا ۵

د محمودراقي ښاروالۍ لپاره د نوي ښاروال د معرفي په موخه غونډه د کاپیسا مرستیال والي شیخ اسدالله "سنان" په مشرۍ، د دولتي ادارو رئیسانو، علماوو، قومي مخورو او د رسنیو د استازو په ګډون ترسره شوه.

مدیر عمومی حکومتداری شهری، مدیر ارشاد و دعوت و مدیر انضباط شهری شاروالی چاریکار به منظور حفظ سلامت عمومی و جلوگیری از فروش آردهای کهنه و خراب از گدام‌های مندوی این شهر نظارت نمودند که در جریان آن ۴۹ بوری آرد فاسد و کرم‌زده از گدام‌های مختلف کشف و ضبط گردید.



چاریکار ۶

کارکنان تنظیف و سرسبزی ریاست شاروالی شهر ایبک کثافات، رسوبات و زباله های نواحی سه گانه شهر ایبک را طبق تقسیم اوقات از قبل تعیین شده طی سه یوم کاری پاک کاری و به محل دفن کثافات بیرون از شهر انتقال دادند.



سمنګان ۷

د میدان ښار ښاروال ملا راز محمد "فاروقي" نن د ښاروالۍ تخنیکي ټیم سره یو ځای د ۲۸۰ متره کانکریټي سړک د جوړولو پروژې څخه لیدنه وکړه.

په دې لیدنه کې ښاغلي ښاروال د کار د کیفیت او پرمختګ حالت له نږدې وڅېړلو او اړوندو انجنیرانو ته یې سپارښتنه وکړه چې ټول کارونه دې د تخنیکي معیارونو او ټاکلي وخت سره سم ترسره کړي.

میدان وردګ ۸

د ننګرهار ولایت څپرهار ښاروالۍ له لورې د څپرهار ولسوالۍ، امنیه قوماندانۍ او مرکزي کلینیک کې د صفایي چارې ترسره شوې.



ننګرهار ۹

فراه ښاروالۍ د سمسورتیا مدیریت د ښار د ښکلا او زرغونتیا په موخه، د ښار په بېلابېلو بلوارونو کې د شته نیالګیو د منظمولو چارې پیل کړې دي. د دغو فعالیتونو په لړ کې د ننګاب بلوار د نیالګیو، د زیانمنو وابنو د ایستلو کار پیل شو.



فراه ۱۰

کندهار ښاروالۍ د سرسبزۍ امریت له لورې، د خپل منظم پلان له مخې د ښار په بېلابېلو ناحیو کې د زینتي ګلانو او اینبودل شوو نیالګیو د اوبولو چارې په دوامداره او منظم ډول رواني دي.



کندهار ۱۱

قاری آغا ولی قریشی، شاروال شهر نیلی از پروژه های تحت کار شاروالی که عبارت از پروژه اعمار مسلخ در ناحیه دوم گذر اول شاروالی و پروژه موزائیک فرش و اعمار جویچه پیش روی مارکیت های جنوب چوک گل بادام همرای انجنیر توظیف شده و تیم تخنیکی نظارت نمودند.

دایکندی ۱۲

## اعلان داوطلبی

به اطلاع عموم اشـــخاص و افراد رسانیده میشود که شـــاروالی شـــهر چاریکار در نظر دارد قرارداد تهیه و خریداری تیـــل دیزل و پترول مورد ضرورت وســـایط شـــاروالی چاریکار را به داوطلبی باز بگـــذارد. بناً به اطلاع عموم ســـکتورهای امارتی و خصوصی، شرکت های لوژســـتیکی و تجارتی که واجـــد شرایط بوده و خواهان اشتراک در پروسه باشند رسانیده میشود که درخواســـتی‌های خویش را جهت اشتراک در جلسه داوطلبی باز و اخذ آفر به ریاســـت شاروالی چاریکار، مدیریت تدارکات بسپارند و خودشان تا ۲۱ روز بعد از نشر اعلان غرض داوطلبی به شاروالی چاریکار ساعت ۱۰:۰۰ پیش از چاشت حاضر شوند.

- شرط نامه را قبل از مجلس داوطلبی ملاحظه کنید.
- تضمین به شکل بانکی اخذ میگردد.

ولایت کاپیسا

د روزګان ولایت ترینکوټ ښـــاروال په لارښوونه؛ په ښار کې د تفریحي پارکونو څخه د نظافت، د نیالګیو او چمنونو ساتنه، د نیالګیو د ښې ودې په موخه نظارت تر سره شـــوو. چې له مخې د یادې ښاروالۍ د تنظیف او سرسبزۍ مدیریت اړوند کارکوونکو ښار کې د موجوده تفریحي پارکونو څخه په زیاته کچه زیانمن وابنه لرې کړل شول.



روزګان ۱۳

کابل ولایت قره‌باغ ښـــاروالۍ په استازیتوب سید ادریس هاشـــمي او ورسره مل پلاوو د مال بازار (نخاص) څخه له نیږدې لیدنه وکړه او د تهجایي راټولولو په اړه یې تحقیق وکړ، ځکه په تېرو بازارونو کې شـــکایتونه موجود وو.

د لیدنـــې او تحقیـــق وروســـته، د مالونو له تجارانو (جلابانو) سره ناســـته وشوه. پرېکړه وشوه چې د ښاروالۍ د لایحې له مخې به د بازار تهجایي یوازې یو ځل اخیســـتل کېږي. هغه کســـان چې له دې لایحـــه نه سرغړونه کـــوي او په سرای کې بار بـــار د مالونو پیر او پلور په مهال اضافي پیســـې اخلي، قانوني چلند به ورسره کېږي.

کابل ۱۴

د ســـپین‌بولدک ښـــاروال پـــه هدایت؛ د ښـــاروالۍ انجنیرۍ امر او د ښاري حکومتولۍ مدیر رغنیزو پروژو څخه لیدنه وکړه؛ لومړۍ پروژه چې د ګمرک د بیاپاس ســـړک د داغګیري په موخه یې کار جریان لري، همدا راز دوهمه د ســـنګاري پروژې ده چې د "ویش سبزي مانده" او "ښایســـته پمپ مانـــده" رغنیزې چارې هم دوام لـــري. د انجنیرۍ امر لخـــوا د قراردادي شرکت مســـؤول انجنیر ته سپارښتنه وشوه، چې ټولې چارې باید په معیاري او لوړ کیفیت ترسره شي ترڅو د پروژو کارونه په ښه ډول بشپړ شي.



کندهار ۱۵

## د محموددراقي ښـــاروالۍ له خوا د ده‌باباعلي د شـــنبې بازار څخه کنټرول او څارنه ترسره شوه




کاپیسا ۱۶

د بازارونو د منظمې څارنې او کنټـــرول د لړۍ په دوام، د محموددراقي ښـــاروالۍ کارکوونکو له خوا نن د ده‌باباعلي شنبې بازار څخه څارنه ترسره شوه.

یاده څارنه د ښاري نظم ټینګښت، د چاپېریال پاکوالي، او د ښاري اصولو د تطبیق په موخه تر سره شوه.

## د میدان ښار ښاروالۍ له لوري د کثافاتو انتقال چارې دوام لري



میدان وردګ ۱۷

د میدان ښار ښاروالۍ د تنظیف او سرسبزۍ کارکوونکو د منظم کار په لړ کې د ښار د چاپېریال د پاکوالي په موخه د ښار بېلابېلو برخو څخه کثافات انتقال کړل.

د نـــاصري کوچیانو له مکتب څخـــه، همدارنګه د بازار د پاســـپورټ کوځې، د معلم کوځې او د پارک کوځې څخه ټول کثافات د ښاروالۍ د تنظیف کارکوونکو لخوا راټول او د انتقال لپاره ځانګړو ځایونو ته یوړل شول.

روزګان ولایـــت ترینکـــوټ ښـــاروالۍ د تنظیـــف او سرسبزۍ مدیریت لخوا د ښار د نیالګیو د ښې پالنې، ښـــکلا او د نیالګیو د ودې په موخه ښار کې د موجوده نیالګیو، پارکونو، شنو ساحو او ښار کې د ګلدانونو اوبه کولو چارې ترسره شوې.



روزګان ۱۷

مدیریت تنظیف و سرسبزی ریاســـت شاروالی شهر سرپل، زباله‌های موجود در داخل شهر را به‌گونه منظم جمع‌آوری نمود و پس از آن به مکان مناسب در بیرون از شهر انتقال داد تا از آلودگی محیط زیست جلوگیری و فضای شهر پاک و منظم حفظ گردد.



سرپل ۱۸

کندهار ښـــاروالۍ د تنظیف عمومـــي مدیریت له لوري د ترتیب شـــوي پلان له مخې دا مهال د ښـــار په څوارلسو ناحیو کې د ویالو پاکاري، د سړکونو جارو کول او د کثافاتو را ټولولو او انتقالولو چارې په چټکۍ سره رواني دي.



کندهار ۱۹

شاروالی انجیل ولایت هرات، کار سیخ بندی سقف طبقه سوم تعمیر اداری این اداره را آغاز نموده است که کار آن به سرعت جریان دارد. مســـؤولان شـــاروالی انجیل در جریان بازدید از کار این پروژه، هدایات لازم را به شرکت قراردادی دادند تا پروژه بشـــکل درست تطبیق و تکمیل گردد.



هرات ۲۰

## اطلاعیه

مسؤولان در شاروال شهر نیلی ولایت دایکندی از وضعیت پیاده‌روها و تنظیف شهر نظارت نمودند و در جریان نظارت، به کارکنان تنظیف هدایت‌های لازم داده شد تا ساحات مورد ضرورت را به وقت معیین آن پاک کاری نموده و همچنان به کسبه کارانی که پیاده روها را مسدود کرده بودند هشدار داده شد که در صورت تکرار، با آنان برخورد قانونی صورت میگیرد.

دایکندی ولایت

### غزني کې د ۱۰ میلیونه افغانیو په ارزښت د دریو پروژو چارې پیل شوې


غزني ۲۱

د غزني ولایت د دویمې ناحیې اړوند د خواجه بقال سیمه کې د دریو کوڅو د رغولو چارې پیل شوې.

د یادو پروژو د پرانیستې پرمهال د غزني ښاروال مولوي سردارولي ثابت وویل موږ ژمن یو چې د ښاریانو د ژوند ښه والي او د ښار د پرمختګ لپاره عملي ګامونه واخلو.

### د ګردیز ښار په نانوایيو کې د ډوډۍ وزن کنټرول ترسره شو


پکتیا ۲۲

د پکتیا مقام په مشرۍ د ګردیز ښاروالۍ مارکیټونو تنظیم مدیریت او اړونده ولایتي ادارو د ګډې کمیټې د ننني ورځې د څارنې پر دوام، د ګردیز ښار نانوایيو د ډوډۍ وزن کنټرول ترڅنګ، د دې صنف د کاروبار ځای د حفظ الصحې او پاکوالي څارنه هم وکړه.

**جلسه به منظور معرفی شاروال جدید شهر محمودراقی در حضور جمعی از مسؤولین و کارکنان شاروالی محمودراقی در مقر این اداره برگزار گردید و قاری شیراز عبدالله، شاروال جدید محمودراقی بر لزوم اطاعت از الله متعال، رسول‌الله صلی الله علیه وسلم و اولوالامر تأکید نمود.**


کاپیسا ۲۳

## کندهار ښاروالۍ خبرتیا!

کندهار ښاروالۍ د ۱۴۰۴ مالي کال د پراختیایي بودجې او تدارکاتي پلان پر اساس، د متفرقه فرعي سړکونو د جوړولو دوهم فاز( په دولسمه او نهمه ناحیه کې د فامیلۍ او کوتل مرچې سړک) د اساسي جوړونې پروژې قرارداد له سهیل اریا او السیف های وي مشترک ساختماني شرکت سره چې د (٤١٦٢١/١٩٦٥-٠٤-D) شمېرو جوازونو درلودونکي دي.

د یاد ساختماني شرکتونو لومړی ادرس: کندهار، سپین بولدک عمومي سړک، د نوراني سرای پر مخامخ؛ دوهم ادرس: کندهار عینو مېنه، دعینو سالون پر مخامخ اول سړک. په مبلغ ۱۷۵۲۴۰۰۰ اوولس میلیونه پنځه سوه څلرویښت زره افغانۍ د قرارداد د عقد په موخه، د رسمي طی‌مراحلو پروسه جریان لري.

هغه حقیقي او حکمي اشخاص چې په دې برخه کې هر ډول اعتراضونه ولري، کولای شي خپل اعتراضونه د لیکلي دلایلو سره یو ځای د ۱۴۰۴ کال د میزان میاشتې له ۲۷ نېټې څخه د عقرب میاشتې تر ۳ نېټې پورې د تهیه او تدارکاتو عمومي مدیریت ته د رسمي طی‌مراحلو وروسته وسپاري، ترڅو په اړه يې وروستي اجراات ترسره شي.

د نورو معلوماتو لپاره د لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ:

۰۷۰۷۹۷۰۷۶۰

کندهار ولایت

### فراه ښاروالۍ په څلورمه ناحیه کې د ۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د (ادار یو ۱)سړک د اسفالټ (قیرریزی) چارې پیل کړې


فراه ۲۴

فراه ښاروالۍ له لوري د ښار اړوند څلورمه ناحیه کې (د ادار یو ۱ ) سړک د آسفالټ (قیرریزی) چارې د ۲ میلیونه افغانیو په لګښت د ښاروالۍ له پراختیایي بودجې څخه پیل کړې. فراه ښاروالۍ د تخنیکي او مسلکي چارو امر، د ناحیې مدیر په ملتیا د سړک د قیرریزۍ له چارو څخه د لیدنې پر مهال وویل؛ چې یاد سړک د ۳۱۴ متره په اوږدوالي او ۷ متره سور په لرولو سره آسفالټ کېږي چې د قیرریزۍ چارې به يې نن بشپړې شي.

نوموړي دغه راز وویل؛ چې اوس مهال د ښار په بېلابېلو ناحیو کې د ښاروالۍ له لوري د بیا رغونې کارونه ښه چټکتیا سره روان دي.

### د جلال‌اباد ښار د صفايي په چارو کې حشر پیل شو


ننګرهار ۲۵

جلال‌اباد ښار کې د ښاروال په مشرۍ د صفايي حشر پیل شو. دغه کمپاین د ساري ناروغیو د مخنیوي، د سړکونو، پارکونو او ویالو د پاک ساتلو په موخه ترسره کېږي. ښاروال وایي: "ښار زموږ ګډ کور دی، پاک ساتل يې زموږ ګډ مسؤولیت دی."

### غزني ښار د دربیم او څلورم پلان پارکونو د رغونې چارې روانې دي


غزني ۲۶

د غزني ښاروالۍ ریاست د ښار د ښکلا، د چاپېریال د زرغونتیا او د ښاریانو د تفریح لپاره د دربیم او څلورم پلان اړوند د رهایشي بلاکونو مخې ته د دریو تفریحي پارکونو د جوړولو چارې پیل کړې دي. د دغو پارکونو د رغونې په بهیر کې د کتارو نصبول، د کربونو جوړول، د ناستې چوکیو اینښودل، سایوانونو جوړول، د اوبو لپاره د حوضونو جوړول او د شنو ساحو جوړښت شامل دي.

### غزني ښاروالۍ د تیلو پمپونه او د اوړو میلونه وڅارل


غزني ۲۷

د غزني ښاروالۍ د مارکېټونو د تنظیم مدیریت د ښار په کچه د تیلو پمپونو او د اوړو په میلانو د څارنې او کنټرول بهیر ترسره کړ.

د مارکېټونو د تنظیم مدیر ضیاالرحمن رشیدي وویل دا څارنه د ښار د پاکوالي د سوداګرۍ د نظم او د عامو خلکو د خوندیتوب د تأمین په موخه ترسره شوه.

# د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه



## نوي بازار او میلمستون سړک د قیرریزۍ پروژه په چټکۍ سره روانه ده



هلمند ۲۸

د هلمند ولایت ګرشک ښاروالۍ د ښاري پرمختګ او ښاري اسانتیاوو د رامنځته کولو په موخه، د نوي بازار او د ولسوالۍ څنګ ته د میلمستون سړک د قیرریزۍ مهمه پروژه په عملي ډول پیل شوې ده.

د یادې پروژې څارنه د ښاروال، ولسوال او د انجنیرۍ ټیم لخوا له نږدې وشوه، او چارې يې د دقیق پلان مطابق په چټک او معیاري ډول روانې دي.

## مهترلام ښاروالۍ له لوري د یو کیلومتر په اوږدوالي د سړک هوارکارۍ چارې پیل شوې



لغمان ۲۹

د مهترلام ښاروالۍ له داخلي بودجې د دریېمي د څلورمې ناحیې اړوند د «ار یک» تفصیلي پلان په ساحه کې د یو کیلومتر په اوږدوالي او ۳۰ مترو په پلنوالي د سړک هوارکارۍ چارې پیل شوې.

یادې چارې د تخنیکي او مسلکي امر، د سړک جوړونې انجنیر او د پلان جوړونې او خط اچونې انجنیر په حضور کې پیل شوې.

د یادونې وړ ده چې له دې وړاندې د مهترلام ښاروالۍ له لوري د دریېمي ناحیې اړوند ار سه او ار ۱۰ تفصیلي پلانونو کې د اتو فرعي سړکونو هوارکارۍ هم شوې چې اوس مهال خلک پرې په اسانۍ سره تګ راتګ کوي.

## سپین‌بولدک ښاروال د ښاروالۍ انجنیرۍ امر؛ د قراردادي شرکتونو د انجنیرانو او مسؤلینو په ملتیا د ښار د مهمو رغنیزو پروژو له روانو چارو څخه لیدنه وکړه.



کندهار ۳۰

## پروژهٔ احداث کانال و کانکریت‌ریزی جادهٔ امام ابوحنیفه ـ رح مربوط ناحیهٔ پانزدهم شهر هرات، به طول ۱۱۶ متر و عرض ۸ متر همراه با احداث جویچه‌های دو طرف آن، به هزینهٔ مجموعی حدود یک میلیون افغانی از بودجهٔ انکشافی شاروالی هرات، توسط شرکت ساختمانی و سرک‌سازی «فرید ترین» تکمیل و به بهره‌برداری سپرده شد.



هرات ۳۱

## فراه کې د باختر پله رغنيزې چارې ۳۵ سلنه بشپړې شوې



فراه ۳۲

د فراه ښاروالۍ له پراختیایي بودجې څخه د ښار د لومړۍ ناحیې اړوند د نږدې ۳ میلیونه افغانیو په لګښت د باختر پله د رغونې چارې تر اوسه ۳۵ سلنه بشپړې شوې دي.

د فراه ښاروالۍ د تخنیکي او مسلکي چارو امر انجنیر شاه محمود جلالي د یاد پل له رغنیزو چارو څخه د لیدنې پر مهال وویل، چې دا پل د فراه ښاروالۍ له بودجې څخه د ۲ میلیونه ۸۷۲ زره ۸۰۹ افغانیو په لګښت جوړېږي.

## فراه ښار کې د کثافاتو راټولولو او لېږدولو چارې روانې دي



فراه ۳۳

د فراه ښاروالۍ د تنظیف مدیریت کارکوونکو له لوري د ښار د پاکوالي او پاک چاپېریال د رامنځته کولو په موخه، د ښار په بېلابېلو سیمو کې د کثافاتو راټولولو او لېږدولو چارې ترسره شوې.

په دې لړ کې سلګونه متره مکعبه کثافات د ښار له بېلابېلو برخو راټول او له ښاره بهر انتقال شول.

## ترینکوټ ښار د ټراکټور، ډمټرک، ټرک‌موټر چلوونکو د پام وړ



روزګان ۳۴

روزګان ولایت ترینکوټ ښاروالۍ یو ځل بیا له باروړونکو موټرو چلوونکو څخه غوښتي چې د نظافت او ښاري نظم مراعات وکړي. د ټاټ یا پلاستیک کارول، پر اندازه بار، او د سړکونو نه تخریب، زموږ د ګډ ښار د ښکلا او اسانتیا لپاره حیاتي دي.

## نادعلي ولسوالۍ کې د یوه پل د جوړولو کار پیل شو



هلمند ۳۵

د هلمند ولایت نادعلي ښاروالۍ لخوا د نادعلي ولسوالۍ په مرکزي بازار کې د مسترپانو او عمومي راستي ترمنځ، د پول د جوړولو کار جریان لري.

## د ګذر وکیلانو سره د محمودراقي ښاروال د معرفت غونډه ترسره شوه



کاپیسا ۳۶

یاده غونډه د محمودراقي ښاروال قاري شیراز عبدالله په مشرۍ او د ګذر وکیلانو په ګډون ترسره شوه.

قاري شیراز عبدالله د غونډې ګډونوالو ته د ښه راغلاست ترڅنګ د هغوی له راتګ څخه مننه وکړه. نوموړي په خپلو خبرو کې وویل؛ د وطن د ابادۍ په خاطر باید ټول یو له بله سره همکاري وکړو.

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو ادارې لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

# د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

رغونه
اونیزه

## د UNOPS، موسسي او د جلال‌اباد ښاروالۍ مسؤولینو ترمنځ ناسته ترسره شوه



ننګرهار ۳۷

د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو پروګرام (UNOPS) مسؤولینو ننګرهار ولایت مقام، جلال‌اباد ښاروالۍ او اړوندو ادارو سره د پرمختیایي پروژو د تطبیق او بدیل معیشت د پراختیا په موخه ګډه ناسته ترسره کړه. په ناسته کې د ولایت مقام رئیس، ښاروال او د اقتصاد رئیس د روانو او راتلونکو پروژو، په ځانګړې ډول د لسمې او یوولسمې ناحیې د پرمختیایي پروژو او د ښار د حلقوي سړک پر کارونو بحث وکړ. UNOPS د پروژو د زیاتوالي ژمنه وکړه، او ښاروال د ښار د پاکوالي، د لوبې ماشینرۍ برابرولو او د بې کارۍ د کمولو لپاره د لا ډېرو همکاریو غوښتنه وکړه.

## برنامه گزارش دهی فعالیت های انجام شـده ربع اول و دوم سال ۱۴۰۴ شاروالی ولسوالی سیدخیل ولایت پروان در حضور مسؤولین و شهروندان سیدخیل برگزار شد که در آن در مورد کارکردهای شـاروالی، عواید ربع اول و دوم سـال مالی ۱٤۰٤ و منابع عایداتی سیدخیل معلومات ارائه گردید.




پروان ۳۸

## اطلاعیه

بـه اطلاع عموم خانم‌های شـاغل و تجارت‌پیشـه رسانیده می‌شود که:

اداره شـاروالی نیلی ولایت دایکندی، تصمیم دارد غرفه‌های آن‌عده از خانم‌هایی را که در بیرون از پارک فامیلی فعالیت دارند، به داخل این پارک انتقال دهد و آنان را برای مدت شش ماه از پرداخت کرایه معاف سازد. علاقه‌مندان می‌توانند از تاریخ ۱۴۰۴/۷/۲۸ الی ۱۴۰۴/۸/۱۵ درخواسـت‌های خـود را به اداره شاروالی نیلی تحویل دهند. در غیر آن، ممکن است فعالیت آنان در خارج از پارک فامیلی طبق قوانین و اصول شرعی متوقف گردد.

دایکندی ولایت

تیـم تنظیف شـاروالی تالقان ولایت تخـار، با همکاری نواحی مربوطه، شماری از سرک‌های این شهر را از وجود کثافات و زباله‌ها پـاک‌کاری و به بیرون انتقال داد. مدیر عمومی تنظیف، شـاروالی تالقان میگوید پاک کاری زباله ها، طبق تقسیم اوقات مشـخص، به‌گونه دوامدار شبانه روزی انجام می‌شـود تا محیطی پاک برای شـهروندان فراهم گردد. وی از شهروندان خواست در حفظ پاکیزگی با شاروالی همکاری کنند.



تخار ۳۹

شاروالی محمودراقی به منظور تطبیق نقشه های تصویب شـده، رعایـت اصول شـهری، جلوگیری از سـاخت و سـازهای خودسر و غیرمعیاری و حفظ حریم سرک‌ها، از جریان ساخت‌وسـازها در ناحیه اول شهر نظارت به عمل آورد.



کاپیسا ۴۰

## خوست ښـاروال له کارکوونکو سره معرفت ناسـته کې: د شهرت لپاره نه، بلکې د ولس خدمت لپاره کار کوو



خوست ۴۱

د ناسـتې په پیل کې د خوست ښاروالۍ د کارکوونکو په استازیتوب د خارني او ارزوني امر دلاور نوري نوي ښاروال ته د ښه راغلاست ترځنګ وویل چې د ښاروالۍ کارکوونکي تل له پخوانیو ښاروالانو سره ښې اړیکې او همغږي ساتلې دي.

خوست ښاروال حافظ عبدالرشید عمري په خپلو خبرو کې د ښـاروالۍ کارکوونکو ته وویل چې زموږ هدف د شهرت ترلاسـه کول نه، بلکې د ولس ریښتینی خدمت کول دي. نوموړي ټینګار وکړ، چې اسلام د اطاعت او همکارۍ دین دی؛ تول به اطاعت کوو، خپل حقوق به یو بل ته ورکوو او متقابل درناوی به ساتو.

## د مرکزي بغلان ښـاروالۍ د غیرقانوني ودانیو د جوړېدو مخه ونیوله



بغلان ۴۲

د مرکزي بغلان ښـاروالۍ چارواکي وایي چې د ښـار د منظمې ودې او د ښاري نظم د ساتنې په موخه یې د هغو کورونو او تأسیساتو د جوړولو مخه نیولې چې قانوني اسناد او اصولي کارونو له بشپړولو پرته یې جوړېدل پیل شوي وو.

د بغلان ښـاروال قـاري لطف الله عبیـده وویل چې د ښـاروالۍ له اجازې او تخنیکي همغږۍ پرتـه د ودانیو جوړول نه یوازې د ښـاري نظم خلاف عمل دی، بلکې د خطرناکو ودانیو د رامنځته کېدو سبب هم ګرځي.

دور هفتم جلسه اداری شـاروالی پلخمری ولایت بغلان، روز دوشنبه ۲۸ میزان، به ریاست قاری نقیب‌الله شاروال پلخمری و با حضور مدیران عمومی و بخش‌های حکومتی در دفتر شاروال برگزار شد.
جلسه با تلاوت قرآنکریم آغاز گردید و پس از آن، شاروال پلخمری در مورد تطبیق تصمیمات جلسـه قبلی، از جمله تخصیص ملکیت‌های شـاروالی برای سرپناه کارمندان، ایجاد تیپک‌ها در نقاط مختلف شـهر و استفاده از فورمه جات اداری صحبت کرد.
در ادامه جلسه، روی موارد جدید اجندا مانند ایجاد مسلخ معیـاری برای ذبح حیوانـات و تعیین نرخ آن، همچنین جلوگیری از توقف غیرمجاز موترهای ریگ‌کشی که موجب تخریب و آلودگی مسـیر مقابل شاروالی شده‌اند، بحث و تبادل نظر صورت گرفت.
جلسـه با جمع‌بندی نظریات، صدور هدایات لازم و دعای خیر خاتمه یافت.



بغلان ۴۳

د ننګرهار ولایت غني‌خېلو ښاروالۍ اړوند مارکو بازار کې د تنظیف مدیریت له لوري د شینوارو خصوصي لیسي او مارکو بازار ځینو نورو برخو څخه کثافات راټول او ټاکل شوي ځای ته انتقال کړه.

ننګرهار ۴۴

### د هرات ښاروالی له لوري د پښتون پل پارک کې د تکثیري ګلخونو د جوړولو پروژې چارې روانې دي



هرات ۴۵

د شیدايي مامورینو پارک او پښتون پل سولې پارک کې د دوه باب تکثیري ګلخونو د جوړولو پروژه د هرات ښاروالی اداري پراختیايي بودجې څخه د ۳ میلیون او ۷۰۰ زره افغانۍ په لګښت د جوړیدو په حال کې ده.

د هرات ښاروالی اداري د زرغونتیا مدیریت مسؤولین وايي، چې د یادو تکثیري ګلخونو په جوړیدو سره په کلني ډول څه باندې ۷۰۰ زره قلمي او زینتي ګلان

**د کندهار ولایت پنجوايي ښاروالی نظارتي ټیم د بازار نانوايي، حمامونو، خوړنځایونو او کلچه کارخونو څخه نظارت وکړ. نظافت مراعات شویو ته ستاینه، او پاتې کسبه‌کارانو ته سپارښتنې وشوې. همدارز له بازار څخه مزاحمتونه لرې کړل شول. یاده څارنه به دوام لري.**



کندهار ۴۶

### لښکرګاه ښار کې د درې اساسي پروژو چارې پیل شوې

د هلمند ولایت لښکرګاه ښاروال متوازن پراختیا د تحقق په موخه د دریو نوو پروژو د پرانیستې پر مهال ویل؛ چې هدف یې د ښار ټولو برخو ته پراختیايي خدمات رسول دي.

یادې پروژې چې د ښاروالی د پارختیايي بودجې له لارې د څه باندې ۳ میلیونه افغانیو په لګښت پیل شوې، د ښار په لومړۍ، دریمه، څلورمه او پنځمه ناحیه کې پلي کېږي. چې پکې د بربښنايي پایو نصب، پلي لارو او ګلدانونو جوړول شامل دي.

د پرانیستې په مراسمو کې د ښاروال مرستیال، مشورتي بورډ غړو، امرینو، ناحیو مدیرانو، علماء کرامو او ګڼو ښاریانو ګډون درلود.

ښاروال زیاته کړه چې سږ کال د ښاروالی له بودجې ۱۵ پروژې پلان شوې، چې یوه برخه یې بشپړه شوې، ځینې روانې دي، او پاتې به ژر پیل شي.

هلمند ۴۷

### دربیمې ناحیې کوچي بازار سیمه کې د ملکیتونو د ثبت او د دوانیو حجم أندازه ګیري بیا ځلي سروې روانه ده



پکتیا ۴۸

ګردیز ښاروالی انجنیري او عوایدو مدیریت په ګډې همکارۍ، د ګردیز ښار ټولو ناحیو کې د رهایشي کورونو، سوداګریزو او دولتي دوانیو د ټکس صفایي محصول کره توب په موخه بیا ځلي سروې پیل کړې.

د ښار ټولو دوانیو تثبیت او اندازه ګیري دغه لړۍ په چټکۍ سره روانه ده. ګردیز ښاروالی لخوا د دې لړۍ په بشپړیدو سره به د ښار ټول دولتي، رهایشي او سوداګریز ملکیتونه د افمیس مالي سیسټم کې ثبت او منظمه توګه به ترې ښاروالی د صفایي خدمتونو برخې ثابت عواید راټولیږي.

### هلمند ولایت لښکرګاه ښاروال په هدایت شکایاتو ته د رسیدني کمیټې ناسته؛ د ښاروالی د مرستیال په مشرۍ ترسره کړه




هلمند ۴۹

یاده کمیټه چې د لښکرګاه ښاروالی د بېلا بېلو امریتونو او مدیریتونو څخه تشکیل شوې ده هره اونۍ د شکایاتو صندوقونه خلاصوي، چې په هغه کې موجود شکایتونه او د ښاریانو له لوري عرایض تر څیړنې لاندې نیسي.

پیل کې د شکایاتو د کمېټې غړو وړاندې شوي شکایتونه برسي کړه، جانبینو څخه یې د شرعي امورو په نظر کې نیولو سره د یادو ستونزو د حل غوښتنه وکړه.

**شاروالی انجیل ولایت هرات کار پروژه ایجاد یک باب گلخانه معیاری داخل پارک ملی برادر در ناحیه دوم این شاروالی را آغاز نموده است. این پروژه به ارزش ۸۳۲۵۰ افغانی از بودجه انکشافی شاروالی انجیل به طول ۳۵ متر و عرض ۴.۶ متر به هدف کشت گل های فصلی و تزئینی در ناحیه دوم شاروالی انجیل اجرا میگردد و قرار است طی ۲۰ روز کار توسط شرکت لوژستیکی طاها عزیزی تکمیل و به بهره برداری سپرده شود.**

هرات ۵۰

### کندهار کې د مالګې د فابریکو څخه نظارت ترسره شو



کندهار ۵۱

کندهار ولایت مقام تر رهبرۍ لاندې د مستهلکینو ملاتړ ګډ کمیسیون د ښاروالی په همکارۍ د ښار پنځمې ناحیې اړوند د صنعتي پارک له څلورو لویو د مالګې تولید فابریکو، ژرندو او خرخوونکو شرکتونو څخه نظارت ترسره کړ.

یاد نظارت د خلکو د شکایتونو له امله ترسره شو، چې پکې د مالګې کیفیت، وزن، نرخ او بسته بندۍ اړوند ستونزې راپور شوې وې. د نظارت پر مهال مسؤولینو ته سپارښتنې او لارښوونې وشوې، ترڅو د معیاري، باکیفیته او خوندي خوراکي مالګې تولید ته پاملرنه وکړي.

همدارز، له مسؤولینو تعهد واخیستل شو چې له جعلي نومونو او ناسمې بسته بندۍ څخه به ډډه کوي. مسؤولین وپوهول شول، که تولید یې له معیارونو سره برابر نه وي، نو له قانوني چلند سره به مخ شي.

### هلمند ولایت لښکرګاه ښاروال په هدایت شکایاتو ته د رسیدني کمیټې ناسته؛ د ښاروالی د مرستیال په مشرۍ ترسره کړه



هلمند ۵۲

به منظور معرفی شاروال جدید شهر محمودراقی و بررسی موضوعات مهم شهری، جلسه بورد مشورتی تحت ریاست حافظ مولوی شیراز عبدالله، شاروال محمودراقی با اشتراک اعضای بورد مشورتی در تالار جلسات شاروالی محمودراقی برگزار گردید.

در این نشست در مورد همکاری مؤثر در زمینه رسیدگی به امور مهاجرین و عودت‌کنندگان، اقدامات مشترک در راستای جمع‌آوری و رسیدگی به وضعیت معتادین، تأکید بر تطبیق قوانین مرتبط با منع شکار و سایر موضوعات مرتبط با بهبود خدمات شهری و مدیریت بهتر امور شهر بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

اعضای بورد مشورتی ضمن تبریکی تقرر شاروال جدید، نظریات و پیشنهادات خویش را در راستای بهبود خدمات شهری، مدیریت منظم‌تر و رسیدگی به مشکلات شهروندان ارائه نمودند.

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

رغونه اونیزه

# د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

## خوست ښاروال د ښاروالۍ له امرینو سره د همغږۍ ناسته وکړه




خوست ښاروال حافظ عبدالرشید عمري نن سه شنبه د ښاروالۍ له امرینو سره د چارو د ښې همغږۍ او پرمختګ په موخه ناسته وکړه.

ښاغلي عمري په خپلو خبرو کې د ګډ کار، اخلاص او مشورې پر ارزښت ټینګار وکړ او امرینو ته یې ډاډ ورکړ، چې د ښاروالۍ ټولې چارې به په شفافه او قانوني توګه پر مخ وړو.

د ښاروالۍ امرینو په خپل وار سره د خپلو اړوندو څانګو د روانو او پلان شویو فعالیتونو بشپړ راپورونه ښاغلي عمري ته وړاندې کړل.

## غزني ښاروالۍ له لوري د ښاري پلان اړوند وکیلانو او د مشورتي بورډ غړو ته تشریح کړ




د غزني ښاروالۍ ریاست د سکتوري او مسلکي چارو امر حاجي فضل احمد مدني په مشرۍ د ښار د پلان اړوند یوه تشریحي غونډه ترسره شوه.

په دغه غونډه کې وکیلانو او د مشورتي بورډ غړو ګډون کړی وو.

انجنیر ضیافت د ښار د نقشې له مخې د غزني ښار عمومي جوړښت، د سړکونو مسیرونه، د پارکونو عامه تأسیساتو او د رهایشي ساحو تنظیم په تفصیل سره تشریح کړ.

**تورخم ښاروالۍ مرستیال د ډکې سیمه کې د جوړېدونکو ګلدانونو له روانو چارو لیدنه وکړه او زیاته یې کړه چې؛ په یاده ساحه کې د عمومي سړک تر منځ د ګلدان کارونه په چټکۍ او معیاري شکل دوام لري چې ډېرزر به یې کارونه بشپړ او ګټې اخیستنې ته به وسپارل شي.**

ننګرهار ۵۵

## د کندز ښاروالۍ لخوا د پنځو پروژو چارې د بشپړېدو په حال کې دي




په روان لمریز کال کې کندز ښاروالۍ د لسګونو پرمختیایي پروژو د پلي کولو پلان لري چې تر دا مهاله یې د ۱۲ پروژو عملي چارې پیل کړې او د ملا اسحاق کوڅې د کانکریټ کولو پروژه، د ښاروالۍ پارک د دېوال جوړولو پروژه، د شیرخان لیسې شاته کوڅه، د حاجي محمد علم کوڅه او د خاکي لاندې سړک د کانکریټ کولو چارې د بشپړېدو په حال کې دي.

د کندز ښاروالۍ مشرتابه د ښار د ابادۍ او ښاریانو ته د اسانتیاو رامنځته کولو په برخه کې قوي هوډ لري او په همدې موخه اوس مهال د ښار په بېلابېلو سیمو کې کوچنۍ او لویې پروژې د پلي کېدلو په حال کې دي. د کندز ښاروالۍ مشرتابه د ښاریانو غوښتنه کوي چې د یادو پروژو او نورو تاسیساتو په خوندي ساتلو کې خپل مسئوولیت په ښه توګه ادا کړي.

## ناسمو رواجونو د ۱۷مه ګڼه فرمان د پوهاوي په موخه د ښاروالۍ په دېوالونو لیکنې وشوې




د لغمان ولایت محترم ښاروالۍ د ښاري حکومتولۍ امریت ترچتر لاندې د مطبوعاتو او عامه پوهاوي مدیریت له لوري د ښاروالۍ په دیوالونو باندې د مشرتابه د ۱۷ مې ګڼې فرمان چې د ناسمو رواجونو اړوند یې کړې دی د عملي کولو او تطبیق په موخه په بېلابېلو ژبو د عامه پوهاوي لیکنې ترسره شوې.

د محترم ښاروالۍ د ښاري حکومتولۍ امر وویل چې؛ یادې لیکنې یې د محترم ښاروال په څانګړې هدایت کړې دي، تر څو خلک د امیرالمؤمنین د یاد شوي فرمان اړوند پوهاوی ترلاسه کړي او هره ماده یې په خپلو ورځنیو چارو کې عملي کړي.

په ۱۷مه ګڼه فرمان کې ټینګار شوی، چې د خېښو، ودونو، مصیبتونو، او همدارز د حج او عمرې څخه د راستنېدو پر مهال باید له هغو ناسمو او ستړیا جوړونکو دودونو څخه ډډه وشي، کوم چې د خلکو پر اقتصاد او ټولنیزو ارزښتونو ناوړه اغېز لري. د یادونې وړ ده چې د ښاروالۍ له لوري ښاریانو ته د پاک چاپېریال ساتنې په موخه په دیوالونو د عامه پوهاوي لیکنې هم شوې دي.

## شاروالی تورغندی ولایت هرات، احداث پروژه اعمار جویچه ها در داخل این شهر را رسما آغاز نموده است.




پروژه‌ء احداث جویچه‌ها به طول دو کیلومتر و عرض ۵۰ سانت وبه ارتفاع ۷۰ سانت در پیش روی دوکاکین بازار به هزینه‌ء مجموعی نوزده لک شصت سه هزارافغانی ازبودجه انکشافی سال ۱۴۰۴ این شاروالی تطبیق میشود.

در همین حال باشندگان وکسبه کاران محل، ضمن ابراز خرسندی از آغاز کار این جویچه ها اظهار می‌دارند که آغاز پروژه جویچه ها مشکلات شأن از رهگذر انتقال آبرو ها وهمچنان حفظ سرک از خراب شدن، تنظیم نظم بهتر شهری، بخصوص سهولت در پیاده روی هاو تسهیلات زیادی دیگرنیز برای شان فراهم میشود.

## مزارشریف ښار کې د یوې کوڅې کانکرېټ اچولو چارې د ۷ میلیونه افغانیو په ارزښت پیل شوې




مزارشریف ښار پراختیا او معیاري ودې په موخه د مزارشریف ښاروالۍ لخوا او د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو د دفتر په مالي مرسته د مزارشریف ښار ۸مې ناحیې د دشت شور شلمي کوڅې کانکرېټ اچولو چارې پیل شوې.

نوموړې کوڅه ۵۵۰ متره اوږدوالی او ٦ متره سور لري چې هره ورځ ۱۵۰ تنو ښاریانو ته د کار زمینه برابره شوې.

همدارنګه نوموړې پروژه کې د پلچکونو او لښتیو جوړولو هم شامل دي چې رغنیزې چارې به یې د دوه میاشتو په موده کې بشپړې شي.

د نوموړې کوڅې رغنیزو چارو په بشپړېدو سره به ښاریانو او لېږدونکي وسایط ته د تګ راتګ ګڼې اسانتیاوې برابر شي.

## فراه ښـاروالۍ د ۵ کیلومتره خامه سـړکونو جغل ریزۍ او هوارکارۍ چارې پیل کړې




د فـراه ښـاروالۍ له خپلې ماشـینرۍ څخـه په ګټه اخیسـتنې سره، د ښـار پـه بېلابېلو ناحیـو کې د ۵ کیلومتره سـړکونو جغل ریزۍ او هوارکارۍ چارې پیل کړې.

د تخنیکي او مسـلکي چارو امـر د کار د پیل پر مهال وویـل؛ چې اوس مهال د شـېرمې ناحیې اړوند د ګنج سـړک هوارکارۍ روانه ده. د دې سړک په جوړېدو سره به د دغه مسیر اوسـېدونکو ته د تګ راتګ اسانتیاوې برابرې شي. نوموړي همدارز وویل؛ چې د خپلو وسایلو په کارولو سره به دا چارې په کم لګښـت ترسره شي او سړکونه به هم په ښه کیفیت جوړ شي.

## اوومه ناحیه درونټې ساحه کې د سړک د اسـفالټ (قیریزۍ) چارې پیل شوې




د جلال‌آبـاد ښـاروالۍ د داخلي عوایدو په مرسـتـه د اوومې ناحیې اړوند درونټې ساحه کې د ۱۴،۸ میلیونو افغانیو په ارزښت د ۳۱۰ متره په اوږدوالي، ۹ متره سور په لرلو سره د سړک اسفالټ (قیریزي) چارې پیل شوې.

په دغه پروژه کې د اسـتنادي دیوال، ګلدان، ویالې او پلې لارې شـاملې دي چې په اساسي ډول یې چارې روانې دي.

د جلال‌اباد ښـاروالۍ د ساختمان امر انجنیر او ورسره مل پلاوي د سـړک له کارونو لیدنه وکـړه او د شرکت مسوولینو ته یې لازمې سپارښتنې وکړې.

جلال‌اباد ښاروالۍ تخنیکي ټیمونه د خپلو ټولو پروژوي خدمتونو څخـه په وخت څارنـه او مراقبت کوي ترڅو کارونه منظمه او با کیفیته ترسره شي.

## مزارشریف ښـار کې د یو سـړک کانکریټ کولو پروژه د ۷،۵ میلیونـه افغانیو په ارزښت بشپړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه




مزارشریف ښــار پراختیــا او معیــاري ودې په موخه د مزارشریف ښــاروالۍ لخوا او د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو د دفتر په مالي مرسته د مزارشریف ښار ۶ مې ناحیــې ۵م ګذر کې د یو فرعي سـړک کانکریټ کولو پروژه بشپړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه

د ۵م ګذر فرعي سړک ۶۰۰ متره اوږدوالی او ۵،۷ متره سـور لري چې هره ورځ یو شمېر ښاریانو ته پکې د کار زمینه برابره شوې وه.

همدارنګه نوموړې پروژه کې د څلور پلچکونو او لښــتیو جوړول هم شـامل وو، چې رغنیزې چارې به یې د ۳۰ ورځو په موده کې بشپړې شوې.

د نوموړي سړک رغنیزو چارو په بشپړېدو سره د ښاریانو او لېږدونکي وسـایط ته د تګ راتګ ګڼې اسـانتیاوې برابرې شوې.

## غزني ښاروالۍ د اوړو له منډیو څار او کنټرول ترسره کړ




د غزني ښاروالۍ ریاست د مارکېټونو د تنظیم مدیریت له لوري د ښار په بېلابېلو منډیو کې د اوړو د وزن کیفیت او نرخونو د څارنې او کنټرول پراخ بهیر ترسره شو.

د مارکېټونو د تنظیم مدیر ضیاءالرحمن رشیدي وویل په وروستیو ورځو کې د لارې د بندېدو او د تیلو د بیو د لوړېدو لــه امله د اوړو په نرخونو کې لنډ مهاله لوړوالی راغلی خو اټکل کېږي چې ډېر ژر به بیې ببرته راټیټې شي.

**خوست ښاروال سره د ټولنیز ژوند پراختیا ټولنې مسؤولینو وکتل**

د ټولنیز ژوند د پراختیا ټولنې مسؤولینو او یو شمیر خوستیو ځوانانو د خوست ښاروال حافظ عبدالرشید عمري سره د ښاروالۍ مقام کې وکتل.

د یادې ټولنې مسؤولینو ښاروال ته د نوې دندې مبارکي ورکړه او د خپلې ټولنې د فعالیتونو په اړه یې معلومات شریک کړل.

خوست ۶۴

## خوست ښاروال: د پروژو کیفیت زموږ مهم لومړیتوب دی




خوست ښاروال حافظ عبدالرشید عمري د ښار شپږمې ناحیـې اړوند اداري کمپلکس څخه تر بې پروژې پورې په د سـړک، لښتیو، پیاده‌رو او استنادي دیوال د روانې پروژې چارې د انجینرانو په شتون کې وارزولې.

د لیدنې پر مهال ساحوي انجینرانو ښاروال عمري ته د پروژې اړوند مالومات وړانــدې کړل. د یادې پروژې په چوکاټ کې دوه‌لینه سـړک، پیـاده‌رو، د دواړو خواوو لښــتي او د خوندیتوب په موخه ۱۵۰ متره اسـتنادي دیوال شـامل دی، چې اوس مهال لسګونه کاریګر په کې بوخت دي.

## د ښاروالۍ مسـؤولینو د محمودراقي ښارګوټي ودانیزو چارو بهیر څخه څارنه ترسره کړه




محمودراقي ښاروالۍ د منظور شویو نقشو د تطبیق او د ښــاري اصولــو د مراعت پــه موخــه، د محمودراقي ښارګوټي د ودانیزو چارو څخه څارنه ترسره کړه.

دغــه څارنه د ناحیو د مدیریتونو او د انجنیرۍ د ټیم په همغږۍ او همکارۍ ترسره شوه.

شاروالی پلخمری ولایت بغلان از صندوق‌های شکایات در شش ناحیه و مرکز شهر بازدید به عمل آورد. در جریان بازگشایی، شکایات دریافت و جهت رسیدگی، به کمیته مربوطه سپرده شد تا پس از طی مراحل، در اسرع وقت به مشکل مورد نظر رسیدگی شود.قابل ذکر است که این صندوق‌ها هر ۱۵ روز باز می گردند تا شکایات شهروندان جمع‌آوری شده، حقوق آنان تأمین و مشکلاتشان برطرف گردد.

بغلان ۶۷

## پنځمه ناحیه کې د امام مسلم ۳۲ جادې د اساسي طبقاتو د جوړولو چارې روانې دي


هرات ۶۸

د امام مسلم ۳۲ جادې د بنسټيزې لايې (بيس کورس) د زير سـازۍ چارې د قراردادي شرکت له لورې روانې دي او ټاکل شوې په راتلونکي ورځو کې د قير اچولو او اسفالټ چارې يې پيل شي.

دغه پروژه ۴۵۰ متر اوږدوالی لري، چې د سړک د دواړو غاړو لښـتيو جوړولو په ګډون د هرات ښاروالۍ اداري پراختيايي بودجې څخه د شاوخوا ۳،۵ میلیون افغانيو په ارزښت د پلي کېدو په حال کې ده.

د ویلـو ده، چې د هرات ښـاروالۍ اداري د اړوند برخو مسـؤولينو او انجنيران وخت په وخت پـه دوامداره او منظم توګه د پراختيايي پـروژو د کار له بهيره ليدنه او څارنه کوي.

## د غزني ښـاروالۍ د دويمې او شپږمې ناحيـې د تنظيف پرسونل له لورې د ښار د پاک کارۍ بهير ترسره شو


غزني ۶۹

د غزني ښاروالۍ رياست د ښار د ښکلا او عامي روغتيا د ساتنې په موخه د دويمې او شپږمې ناحيې د تنظيف پرسونل په همغږۍ پراخ د پاک کارۍ بهير ترسره کړ.

په دې بهير کې د کلاه سـبز سیمه، د فروخي سيمه، د شـامیر صاحب ټوله ساحه، د روغن فروشان سړک او د ملکي شـفاخانې سـړک له کثافاتو څخه پاک او صفا شول.

کار کانکریت‌ریزی جاده‌ها و کوچه‌های گذر ۱۱ باغچه روغنی ناحیه هفتم شهر هرات با طول ۱۸۰۰ متر و عرض ۵ متر، همراه با ۶۸۰ متر کانال‌سازی، به هزینه حدود ۸ میلیون افغانی از بودجه انکشافی شاروالی به‌گونه سریع جریان دارد.

مسئولان هدف پروژه را بهبود زیرساخت‌های شهری، تسهیل رفت‌وآمد و جلوگیری از آب گرفتگی عنوان کرده‌اند. باشندگان محل نیز از اجرای آن استقبال کرده و آن را مفید دانسته‌اند.

این پروژه تا یک ماه آینده تکمیل می‌شود.

هرات ۷۰

## غزني ښار په اوله ناحيه کې د کوڅـو جوړولو چارې روانې دي


غزني ۷۱

د غزني ښــاروالۍ رياســت د ملګرو ملتونــو د دفتر په همکارۍ د خواجه علي ســاحې اړوند د کوڅو د لښتيو کانکريټ او سبيس اچولو چارې پيل کړې دي.

دغه پروژه د ښــار د سړکونو د پرمختيايي لړۍ يوه مهمه برخه بلل کېږي چې موخه يې د ښار د ټرافيکي ستونزو کمول او ښاريانو لپاره د تګ راتګ اسانتيا ده.

## غزني ښـاروالۍ د دريمې ناحيـې د تنظيف او زرغونتيا کارکوونکـو له خـوا د پارکونو پاکوالي چارې دوام لري


غزني ۷۲

په دې بهير کې د پارکونو شـاوخوا ساحې، د ونو لاندې برخې او د ســړک غاړې له وچو ونــو او کثافاتو څخه پاکې شوې.

همدارنګه د زرغونې ساحې ښه منظمه او ښکلې وساتل شوه ترڅو د ښار چاپېريال لا زرغون او د استوګنې لپاره مناسب شي.

## خوست ښـاروال سره د صرافانـو صنف مشرانو ليدنه وکړه


خوست ۷۳

د خوست ښار د صرافانو صنف مشرانو د خوست ښاروال حافظ عبدالرشيد عمري سره د ليدنې پر مهال ښاغلي عمري ته د نوې دندې مبارکي ورکړه او د هغه راتګ يې خوست ښاروالۍ ته د ښــار د پرمختګ، ښاري نظم او اقتصادي ودې لپاره يو مثبت ګام وباله.

خوست ښــاروال حافظ عبدالرشيد عمري د صرافانو له مشرانو مننه وکړه او زياته يې کړه، چې د ښار اقتصادي ثبات او پرمختګ د هغو کاروباريانو او تجارو په همکارۍ پورې تړلی دی، چې په رښتينې توګه د قانون پلي کېدو او د ښاري نظم ساتنې ته ژمن وي.

## احمدشـاهي جادې د پراختيا چارې پيلېږي


کندهار ۷۴

کندهــار ښــاروالۍ د ښــاري پراختيــا پــه هدف، د احمدشــاهي جادې د غځولو چــارې د مدد څلورلارې څخه تر ډنډ څلورلارې پــورې پيلوي. د دې کار په ترڅ کې به هغه ودانــۍ او ملکيتونه نړول کېږي چې د نوې جادې پر مسير واقع دي.

د تخريب رســمي بهير به د شــنبې په ورځ پيل شي. ښــاروالۍ له ټولو متاثره کسانو غوښــتنه کوي چې تر شــنبې مخکې خپل دوکانونه او کورونه تخليه کړي او د اسنادو سره ښاروالۍ مرکزي دفتر ته مراجعه وکړي.

اسـتملاک به د قانون، عدالت او بازار نرخونو پر بنسټ ترسره کېږي؛ ملکيت لرونکو ته به يا د اوســني ارزښت مطابــق مالي تاوان ورکول کېږي، يــا به ورته د همدې ارزښت بديله ځمکه په عينو مېنه کې ورکړل شي.

ياده پروژه د ښــاري نظم، ترافيکي اســانتياوو او ښاري پرمختګ لپاره مهم اقدام دی. ښاروالۍ له ټولو ښاريانو د همکارۍ غوښتنه کوي څو کندهار يو ښکلی، منظم او پرمختللی ښار شي.

## د تخنيکـي او مسلکي زده کـړو مسؤولينو خوسـت ښاروال سره وکتل


خوست ۷۵

د خوســت ولايت د تخنيکي او مسلکي زده کړو ولايتي امر مولــوي عمر عمري او ورسره مل پلاوي د خوســت ښاروال حافظ عبدالرشيد عمري سره وکتل.

د ليدنې پر مهال مولوي عمر عمري نوي ښــاروال ته د دندې مبارکــي ورکړه او د ښــار د پرمختګ، ښــاري خدمتونو او د ځوانانو د مســلکي روزنې په برخه کې يې د دوه اړخيزو همکاريو پر پياوړتيا ټينګار وکړ.